(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست

**د افراطیت پراخېدل او د افراطیت ریښې..................۱**
کرکجنه دینداري..................................................۱
په افغانستان کې د تکفیر ماجرا.................................۲
د جهادیزم ایډیالوژي چېرته روانه ده؟........................۱۱
انتحاري عملیات او د درولو هڅه یې............................۱۷
د مدرسو نقش او د اندېښنو زیاتېدل..........................۲۵
د اندېښنو بله نمونه..............................................۳۰
پوهنتون، علم که ایډیالوژي .....................................۳۳
له دیني مقدساتو څخه د وسیلې په توګه استفاده...........۳۹
**فکر د تاوتریخوالي په چوکاټ کې.............................۴۳**
د انتقادي تفکر قحطي...........................................۴۸
دعوت ګري د تفکر پر وړاندې....................................۴۹
له افراطپالنې سره د چلند سیاستونو ته بیا کتنه..............۵۵
**آسماني دین، د ځمکني واقعیتونو په دایره کې..............۶۱**
له دیني مفکورې سره آشنايي.....................................۶۱
دین او دیني مفکوره...............................................۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



«الحنيفية السهلة السمحة» (۲) بللی و، اوس هماغه دين د خلکو په سترګو کې ډارووونکې څېره خپله کړې ده. [په دې حديث کې حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي چې زه داسې دين ته مبعوث شوی يم چې آسانه دی او هېڅ سختي په کې نشته. ژباړن]. نن سبا اکثره کورنۍ چې په خپلو اولادونو کې د ديني تمايل نښې وينې، د دې پر ځای چې ورته خوشحاله شي، ډارېږي چې هسې نه بچي يې تشدد او تاوتريخوالي ته مخه کړي.

افراطي ديندارۍ په څو ځانګړنو مشهوره ده. يوه ځانګړنه يې دا ده چې په آسانۍ سره خلک تکفيروي او په مختلفو بهانو يې د دين له دايرې څخه شړي. سره له دې چې په اسلامي سنت کې تکفيرول ډېر قيدونه لري او ان د اسلام د پيغمبر ﷺ د اسامة بن زيد (۳) او خالد بن وليد په څېر جليل القدره صحابه په دې خاطر سخت ملامت کړي وو چې په دې کار کې به يې بې‌باکي کوله؛ خو دغه ډلې د دې قيدونو پروا نه کوي. دوی ته د نورو کافر ګڼل د ماشومانو لوبکۍ ښکاري. دا ځکه چې په دې وسيله خپل سياسي او فکري مخالفان له رقابته وباسي.

د اسلام په تاريخ کې د تکفيرولو مخينه او تاريخچه جلا ليکنه غواړي خو دلته به د افغانستان په معاصر تاريخ کې د دې بهير پيدايښت او عاملونو ته اشاره وکړو.

## په افغانستان کې د تکفير ماجرا

د اسلام په تاريخ کې تکفير اوږده مخينه لري. په لومړي ځل دا وسله د ځينو صحابه‌وو او تابعينو پر وړاندې د خوراجو له خوا وکارول شوه او د اسلام څلورم راشد خليفه او د اسلام د پيغمبر ځينې نور ياران په همدې وسله ووژل شول.

دا چې د دې بهير پايلې خونړۍ وې نو اکثره مسلمان عالمان دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديني مدرسو او په افغانستان کې د دوی همفکرانو هم دې تبليغاتو ته هوا ورکړه. همدارنګه په ايران پورې تړلې ډلې هم ميدان ته راودانګلې. دوی په ګډه سره هغې دعوې ته مذهبي او ديني رنګ ورکړ چې په اصل کې سياسي وه. د افغانستان لانجه هم د ډلو او قومونو تر منځ او هم د سيمه‌ييزو او نړۍوالو ځواکونو تر منځ، سياسي دعوا وه. دوی د کفر او ايمان تر منځ د کرښې په راځلولو سره د تکفير وسله لا هم هماغسې په لاس کې وساتله.

دا ځل خطرناکه خبره دا ده چې په دې تورې سره درې ليسزې وينې بهول شوې دي خو لا يې هم په تېکي کې د بېرته اينښودلو لپاره هېڅ تدبير نه دی شوی، بلکې برعکس ليدل کېږي چې اوس د تکفير ايډيالوژي هم د دېرش کلنې جګړې او وژنو پر نورو دودونو ور زياتېږي. له دې سره به دا بهير لا زيات مشروعيت خپل کړي. لا هم په هره بهانه او په هر ځای کې هره مذهبي ډله چمتو ده چې په آسانۍ سره دا توره راوباسي او خپل مخالفان او رقيبان ورباندې وګواښي.

اوس نو د موسيقۍ په شان له عادي مسايلو څخه رانېولې تر پوره سياسي بحثونو پورې هر څه تکفير کېږي. له بهرنيو سفارتونو او موسسو سره کار کول، د افغانستان په اردو او پوليسو کې دنده، د ملګرو ملتونو په موسساتو کې وظيفه، د ملي ورځ په توګه د نوروز لمانځل او ان د هندي سريالونو ښه اېسول يا د ږيرې خرييل، کافي دي چې ځينې ډلې ځوک تکفير کړي.

دې ته په کتو سره چې په افغاني ټولنه کې کلامي بحثونه نشته، په علمي مرکزونو کې د فلسفې فقر ليدل کېږي او په هېواد کې په عمومي کچه د عواطفو او احساساتو څپې غالبې دي نو ظاهراً دا هيله نه شو لرلی چې د تکفير ور دې په دې نږدې وختونو کې بند شي. تر څو پورې چې دا توره په تېکي کې وانه چول شي، دا تمه نه شو کولی چې د انسان ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې وي؛ نو په حکمونو کې خطا پخپله منتفي ګڼل کېږي. همدارنګه د ایډیالوژۍ وړاندې کوونکي د ایزدي جلال خاوندان او د غیرمتعارفې پوهې څښتنان ګڼل کېږي.

د علم یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې څومره د ځواب په لټه کې وي، هماغومره یا تر هغه لا زیات په نویو پوښتنو پسې ګرځي. حال دا چې ایډیالوژي د پوښتنو او نقد دښمنه ده او هر ډول کنجکاوي او د جزیاتو پلټنه ځان ته ګواښ ګڼي.

د پوهنتونونو او اکاډیمیکو مرکزونو تاسیسول اصلاً د دې لپاره وي چې د لا زیات معرفت په تولید سره، پر علم دښمنه ایدیالوژي باندې میدان تنګ کړي. خو د مختلفو هېوادونو تجربې یې راښیي چې ایډیالوژۍ په کراتو پر علم باندې میدان تنګ کړی او ان د علم اصلي ځالې (پوهنتونونه) یې نیولې دي. کله چې په پوهنتونونو کې د ایډیالوژۍ واکمني خپره شي، پوهنتونونه پر داسې لارې روانوي چې د علم او معرفت د تولید پر ځای، مُرَکب جهل تکثیر کړي، د خلکو په ماغزو کې جزمي باورونه پېچکاري کړي، د تعصب اور ته لمن ووهي، او پر بې اساسو باورونو د شک، تردید او ترسیخ لاره بنده کړي.

د افغانستان په خاصه تجربه کې وینو چې تر جنګ مخکې کلونو کې په پوهنتونونو او روزنیزو محیطونو کې دوو ایډیالوژیو راج چلاوه، یوه یې چپي ایډیالوژي وه چې له روسي – چیني فکري ادبیاتو څخه یې الهام اخیستی و، بله یې مذهبي ایډیالوژي وه چې له ځینو ایراني، پاکستاني او مصري سرچینو څخه خړوبېده.

تر کمونیستي کودتا وروسته، لومړی بهیر د واک پر ګدۍ کېناست او رسمي پوهنتونونه یې په خپلو منګولو کې ونیول. رقیب بهیر یې بیا د جهاد او مهاجرت له سنګره پرې راودانګل. د کمونیستي حکومت له راپرځېدو سره مذهبي بنسټپالنه په حاکمه ایډیالوژي بدله شوه او لا

